هفته واره رساله

د شيخ طريقت امير اهلِ سُنَّت باني دعوتِ اسلامي حضرتِ علامه مولانا ابو بِلال
محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ملفوظاتو ليکلې ګلدسته

# امير اهلِسُنَّت نه د
# بد فالۍ په باره کښې 20 سوالونه او جوابونه

(پښتو)



- د مختلفو څيزونو نه بد فالي اخستل 2
- آيا د چا ستوري په ګردش کښې راځي؟ 7
- د شيشې د څيز د ماتيدلو نه بد فال اخستل 9
- د نمر يا سپوږمۍ د تندر نيولو اثر---- 13

شيخ طريقت امير اهلِ سُنَّت حضرتِ علامه مولانا ابو بِلال
**محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

# امیرِ اهلِسُنَّت نه د بد فالی پهٔ باره کښې 20 سوالونه او جوابونه

دُعائے خلیفهٔ عطّار: یا **الله** پاکه! څوک چې دا رساله "د امیرِ اهلِسُنَّت نه د بد فالی پهٔ باره کښې 20 سوالونه او جوابونه" ولولي یا واوري، هغهٔ د بد فالۍ او توهم پرستۍ نه **محفوظ** کړې او هغهٔ سره د مور او پلار ه بے حسابه اوبخښې. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

حضرت شیخ ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه یوه ورځ د بغداد شریف د ډیر لوئي عالم حضرت ابو بکر بن **مُجاهد** رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه خوا له تشریف یوړلو نو هغوئي فوراً ودریدلو او هغوئي ته ورغاړه وتلو او د تندي ښکلولو سره یې ډیر پهٔ تعظیم سره د ځان خوا ته کښینولو، حاضرینو عرض وکړو: یا سیِّدي! تاسو او د بغداد خلقو به تر ننه پورې دوئي ته دیوانه وئیلو خو نن د دوئي دومره قدر او تعظیم ولې کوئ؟ جواب یې ورکړو: ما هسې داسې اونه کړل، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! بیګاه ما پهٔ خوب کښې یو ایمان تازه کوونکے منظر ولیدو چې ابو بکر شبلي پهٔ بارګاهِ رسالت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې حاضر شو نو د دواړو جهانونو سردار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ودریدلو او دوئي یې خپلې سینې ته راجُخت کړو او د تندي ښکلولو سره یې د ځان خوا ته کښینولو. ما عرض وکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! پهٔ شبلي باندې د دومره شفقت څهٔ وجه ده؟ د **الله** پاک خوږ **محبوب** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (د غیبو خبر ورکولو سره) ووفرمائیل چې دا د هر نـمونځ نه پس دا آیت لولي:

﴿لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِیْزٌ عَلَیْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِیْصٌ عَلَیْكُمْ بِالْمُؤْمِنِیْنَ رَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ (۱۲۸)﴾

(پ11، التوبه: 128)

او د دې نه پس په ما باندې دُرُود لولي. (القول البدیع، ص346)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**سوال:** زمونږه په معاشره کښې قِسما قِسم بد فالۍ اخستے کیږي مثلاً که په مخه توره پیشو تیره شي نو داسې به کیږي، چې کارغه څۀ ووائي نو داسې به کیږي او چې تیل وغورځیږي نو داسې به کیږي وغیره وغیره، دا ارشاد کړئ چې په دې باره کښې اِسلام زمونږه څۀ راهنمائي کوي؟

**جواب:** بد فالي حرامه ده. (الطریقة المحمدیة، 17/2) په دُنیا کښې یو غیر مسلمه قوم دے کوم چې د تورې پیشو نه بد فالي اخلي تر دې پورې چې که د دغه قوم خلق چرته په سفر روانیږي او د هغوئي په مخه باندې توره پیشو تیره شي نو هغوئي راواپس کیږي او دا گڼې چې که هغوئي سفر وکړو نو نقصان به یې کیږي خو بد قسمتئ سره د دغه قوم سره د یو ځائے پاتې کیدو په وجه بعضې مسلمانانو هم د تورې پیشو نه بد فالي اخستل شروع کړې ده. که په څۀ نیک کار کښې چرته د بد فالۍ والا معامله راشي نو هغه کار ضرور کول پکار دي مثلاً تاسو په قافله کښې سفر کوئ او توره پیشو په قافله کښې د سفر کوونکې هر کَس په مخه باندې تیره شي او یو ځل نۀ بلکې 100، 100 کرته تیره شي نو بیا هم تاسو خپل سفر جاري ساتئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! ډیره کامیابي به درنصیب کیږي نو داسې تاسو ته بد فالي رد کول پکار ده.

زۀ یو ځل چرته روان ووم او زما په مخه باندې توره پیشو تیره شوه خو ما خپل سفر جاري وساتلو او د **الله** پاک په رحمت سره نن زۀ ستاسو د وړاندې ناست یم نو د تورې پیشو نه

بد فالي اخستل زمونږه نۀ بلکې د غير مسلمو عقيده ده او په اِسلام کښې بد فالي اخستل جائز نه ده. (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 109/3)

سوال: 13 عدد سپيرۀ ګڼل او د دې نه بد فالي اخستل څنګ دي؟ دغه شان د صفرې مبارکې مياشت سپيرۀ ګڼل او په دې کښې ودونه نۀ کول څنګ دي؟ (1)

جواب: نن سبا خلق 13 عدد سپيرۀ ګڼي او د دې نه بد فالي اخلي. د 13 عدد هم ځومره ښکلے شان دے چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نبوت د اعلان نه پس تر 13 کالو پورې مکے مکرمې ته د خپلو ښپو مبارکو د ښکلولو سعادت عطا کړلو، د دې نه پس يې تر 10 کالو پورې د مدينے منورې هواګانو ته د خپلو زلفو مبارکو د ښکلولو سعادت عطا کړلو، نو 13 عدد بد نه دے. (بخاری، 590/2، حدیث:3902. مسلم، ص984، حدیث:6097) هم دغه شان بعضې خلق د صفرې مياشت ته بد وائي پته نه لګي چې په دوئي څۀ شوي دي؟ د حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهرا رَضِیَ اللهُ عَنْهَا او د مولا مشکل کُشا حضرت علي المرتضیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ واده د صفرې په مياشت کښې شوے وو. (الکامل فی التاریخ، 12/2) او دوئي د صفرې په مياشت کښې ودونه نه کوي چې دا سپيرۀ مياشت ده حالانکې د مولا مشکل کُشا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ او د حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهرا رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نکاح پخپله د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په موجودګۍ کښې شوې وه لهٰذا د صفرې په مياشت کښې نکاح کول پکار ده بلکې په اهتمام سره کول پکار ده د پاره د دې چې د خلقو د بد فالۍ اخستلو زور مات شي. (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 506/3)

---

(1) ...دا سوال د شعبه ملفوظاتِ اميرِ اهلسنّت له خوا جوړ کړے شوے دے او جواب د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه له خوا عطا کړے شوے دے.

# د 13 عدد په باره کښې د خلقو غلط خیالونه

ډیر خلق د "13 " نمبر نه هم بد فالي اخلي او "13 " نمبر نه لیکي تر دې پورې چې په کمره او سیټ باندې هم "13 " نمبر نه لیکي، دا هم د معلوماتو د کمي له وجهې وي ګني نو "13 " نمبر بد نهٔ بلکې ډیر ښه دے او دې ته ډیر نسبتونه حاصل دي مثلاً د مولیٰ مشکل کُشا حضرت علي المُرتضیٰ رضی اللہ عنہ د ولادت تاریخ هم 13 رَجَبُ المُرَجَّب دے. (نور الابصار فی مناقب آل بیت النبی المختار، ص 85) هم داسې په جنګِ بدر کښې د صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم شمیره هم 313 وه (ترمذی، 220/3، حدیث:1604) او د ایامِ تشریق اخري ورځ هم 13 ذُو الحِجَّةُ الحرَام ده چې د 9 ذُو الحِجَّةُ الحرَام د سحر نه واخله تر د 13 ذُو الحِجَّةُ الحرَام د مازدیګر پورې تکبیرِ تشریق وئیلے کیږي. (درمختار، 71/3، 75ملتقطا) په 13 تاریخ که چرې د چا ځوي وشي نو مَعَاذَالله! هغهٔ به غورځوي چې دا په سپیرهٔ تاریخ پیدا شوے دے؟ هیڅکله هم نهٔ، بهر حال 13 عدد ډیر ښه دے.

(ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 110/3)

سوال: بعضې خلق داسې بد فالي اخلي چې زمونږ په کور کښې فلانکے خیز پوخ شي نو څهٔ بیماري راځي یا آفت راځي، داسې خلق به څنګه پوهه کولے شي؟

جواب: په اِسلام کښې بد فالي نشته بلکې ښه فال اخستل شته او بد فالي ناجائزه او د ګناه کار دے. (الطریقةالمحمدیة، 17/2)په هر قوم، هره برادری، هر کلي، هر ښار او هر ملک کښې بیلې بیلې بد فالی وي، کومې چې تولې دوکې دي او په شرعي طور د دې هیڅ اَصل نشته. خلق چې څنګه بد فالي اخلي په حقیقت کښې داسې نه کیږي. په سوال کښې د خوراک څښاک په باره کښې د بد فالیِ ذِکر شوے دے ګنې نو عام طور فلانکی ورځ،

فلانکے تاریخ او د صفرې میاشت وغیره په ډیرو معاملو کښې بد فالي اخلي کومه چې د کافرانو نه راروانه ده. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 504/3)

**سوال:** زمونږ د کور په کیلرۍ کښې روزانه دوه کارغان د اوسپنې تار راوړي او راځي او د هغې نه ځه جوړوي، که څوک د دوئي د لرې کولو کوشش کوي نو دا پرې حمله کوي او په زوره زوره نعرې وهي. مخکښې هم داسې شوي وو او زما مور بي بي بیماره شوې وه او اوس هم داسې شوي دي او زما والد صاحب بیمار شوے دے د دې څه وجه ده؟ خلق وائي چې کارغه شیطاني مخلوق دے دا لرې کول نه دي پکار، اوس مونږ څه وکړو تاسو د دې څه حل ارشاد کړئ؟

**جواب:** کارغه شیطاني مخلوق نه دے. البته دې ته په شرعي اصطلاح کښې فاسق وئیلے شي. (بخاری، 204/1، حدیث: 1829 ماخوذاً) بهر حال **الله** پاک ښه پوهیږي چې ستاسو مور پلار واقعي ده چې د دې کارغانو له وجهې بیمار شوي دي که نۀ دا اتفاقي بیماري ده او بیا مو د نفسیاتي اثر له وجهې په زړۀ باندې دا خبره واخسته چې اوس دا کارغان راغلي دي یقیناً چې چا به راباندې جادو کړے وي چې له وجهې یـې مونږ بیمار شو وغیره. تاسو د دعوتِ اِسلامي د مجلس روحاني علاج لاندې د لګیدونکې بستے نه د دې مسئلے د حل د پاره تعویذونه واخلئ په کور کښې یـې زوړند کړئ او مور پلار بلکې د کور ټول ګسان دې یـې هم واچوي. **الله** پاک دې تاسو ته د دې مصیبت نه نجات در عطا کړي. [1] (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 435/2)

---

[1] ... حضرت امام محمد آفندي رُومي بِرکلي رحمۃُ اللہِ علیہ لیکي: بد فالي اخستل حرام او نیک فال اخستل مستحب دے. (الطریقۃ المحمدیۃ، 175/3، 189) که چرې د چا په زړۀ کښې د بد فالۍ خیال راشي او دۀ د راتلو سره ختم کړو نو په دۀ هیڅ الزام نشته خو که دۀ د بد فالۍ اثر واخستو او د هغې اثر په وجه یـې هغه کار ونکړو نو ګنهګاریږي به مثلاً د څۀ څیز سپیرۀ ګڼلو سره د سفر یا کاروبار کولو نه په دې

**سوال:** بانګي خو بانګ کوي، خو چرګه بانګ ولې نه کوي؟

**جواب:** بانګي چې فرښتې ووينې نو بانګ کوي، (بخاری،405/2،حدیث:3303) ځکه چې کله بانګي بانګ وکړي نو هغه وخت د **الله** پاک د فضل او رحمت دُعا کول پکار دي. آؤ! چرګه بانګ نه کوي، خو کله نا کله که چرې چرګه بانګ وکړي نو خلق په دې غلط فهمۍ کښې راشي چې "دا چرګه سپيرۀ ده" د کومې په وجه چې خلق هغه ذبح کړي. داسې سوچ نه دے پکار او نۀ چرګې ته سپيرۀ وئيل پکار دي، ځکه چې بد فالي اخستل ګناه ده، (تفسیر نعیمی، پ9،الاعراف، تحت الایة:132، 119/9) چرګه خو ښه وي.

(ملفوظاتِ امیر اہلِ سنت، 26/10)

**سوال:** که چرې چرګه بانګ وکړي نو آيا د هغې انډے او غوښه خوړلے شي؟

**جواب:** کومه چرګه چې بانګ کوي د هغې انډے او غوښه خوړل بالکل جائز دي. بعضې خلق داسې چرګه سپيرۀ ګڼي او ذبح کوي يې حالانکې دا بد فالي ده او بد فالي شرعي طور جائز نه ده. په عوامو کښې داسې نورې ډيرې خبرې هم مشهورې دي مثلاً د صفرې مياشت يا څۀ خاص تاريخ سپيرۀ ګڼل، د پيشو مخې له راتلل يا د سترګې رپيدل د څۀ مصيبت د راتللو سبب ګڼل وغيره وغيره دا ټولې خبرې د بد فالۍ د قِسم نه دي د کومو نه چې بچ کيدل ضروري دي. د دې قِسمه توهم پرستۍ او د باطلو خيالونو په باره کښې د تفصيلي معلوماتو حاصلولو د پاره د دعوتِ اِسلامي د مکتبة المدينه د 127 صفحو کتاب "بد شګونی" ولولئ. (ملفوظاتِ امیر اہلِ سنت، 176/1)

**سوال:** اوريدلي مو دي چې د صفرې د مياشت د اخرۍ شروع ورځ د مړو د پاره ډيره درنه وي. آيا دا خبره صحيح ده؟

---

سوچ منع شو چې اوس به زما نقصان کيږي نو بيا به ګنهګار وي. (بدشگونی، ص13)

**جواب:** نَعُوْذُ بِاللهِ! که تاسو داسې اوريدلي وي نو غلط مو اوريدلي دي. د صفرې د مياشت ورومبۍ د شروع ورځ نۀ په چا باندې درنه ده او نۀ يـې اخرۍ د شروع ورځ درنه ده. د صفرې د مياشت يوه ورځ، يوه ګينټه، بلکې يو سعت هم د چا د پاره ګران نه دے. البته هُغه وخت د انسان په حق کښې سپيرۀ وي په کوم کښې چې هغۀ د **الله** پاک نافرماني کوي او هُغه وخت ډير ښه وي په کوم کښې چې هغۀ نيکي کوي يا د **الله** پاک اطاعت کوي. [1] (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 124/10)

**سوال:** ما د خپلو اُستاذانو نه اوريدلي دي چې د نهې په ورځ څۀ قينچي کول نه دي پکار، نۀ خالي قينچي چلول پکار وي او نۀ په کپړه باندې چلول پکار وي ځکه چې دا سپيرۀ وي، د دې څۀ حقيقت دے؟

**جواب:** د نهې په ورځ باندې څۀ قينچي کول يا کپړې کټ کول د سپيرۀ والي سبب نه دے. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 552/10)

**سوال:** که د چا ساز کارونه ورانيږي نو خلق وائي چې وئ وروره! ستا ستوري خو په ګردش کښې دي، آيا داسې وئيل صحيح دي؟ دا ورسره هم ووايئ چې آيا ستوري په ګردش کښې راځي؟

**جواب:** "ستوري په ګردش کښې راتلل" يوه مُحاوره ده، ګنې نو ستوري خو هم په ګردش کښې وي، ودريږي نه. داسې هم وئيلے کيږي چې په تا باندې ګردش دے. بعضې

---

[1] ... حضرت علّامه اِسماعيل حقي رحمۃُاللہِعلیه فرمائي: د زمانے اجزا په خپل اصلي حقيقت کښې برابر دي او په هغې کښې هيڅ فرق نشته، البته په هغه اجزا کښې چې څۀ نيکي يا ګناه وشي په هغې کښې د فرق له وجهې د زمانې په اجزا کښې فرق وي، نو د جُمعې ورځ د نيک کار کوونکي په لحاظ سره د سعادت مندۍ ورځ ده او د ګناه کوونکي په لحاظ سره (د هغۀ په حق کښې) سپيرۀ ده. (تفسیر روح البیان، پ24، حمٓ السجدۃ، تحت الآیۃ: 16، 244/8)

وخت د مصيبتونو او پريشانو يوه لړۍ روانه وي په کومه کښې چې انسان ته دا وئيلے کيږي چې " يار مخکښې چې به دې خاورو له لاس وروړلو نو سره زر به ترينه جوړيدل، اوس چې سرو زرو له لاس وروړې نو خاوره ترينه جوړه شي." په داسې حال کښې دا مُحاوره وئيلے کيږي. چې کله خوشحالي وي نو عام طور انسان په غفلت کښې اخته شي، خو چې کله د مصيبت وخت راشي نو هغۀ ته الله پاک ورياد شي، داسې مصيبت د ډيرو خلقو په حق کښې نعمت ثابت شي او د هغوئي په ژوند کښې Turning Point (يعنې انقلابي موقع) راشي، بيا هغوئي د الله پاک په بارګاه کښې سرونه ټيټ کړي چې زما رَبّ به زما نه مصيبت لرې کړي. (ملفوظاتِ امیر اہلِ سنت، 253/4)

**سوال:** د ستورو په ښو او بدو اثراتو باندې يقين ساتل څنګه دي؟

**جواب:** نجوم د نجم جمع ده او هم د نجوم نه نجومي جوړ شوے دے، څوک چې د ستورو خبرې بيانوي. کم عِلم لرونکي خلق د نجوميانو په خبرو کښې راشي حالانکې د دوئي خوا له د تللو اجازت هم نشته. [1] په معاشره کښې د ستورو په لحاظ سره هم خلق ډيرې بد فالۍ اخلي. [2] (ملفوظاتِ امیر اہلِ سنت، 505/3)

---

[1] ... د ستورو نه وختونه معلومول او د لارو او اړخونو پته لګول جائز دي، الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُوْنَ﴾ (پ 14، النحل:16) ترجمۂ کنزُالعِرفان: او خلق د ستورو په ذريعه لار معلوموي.) خو په دې کښې د باران وغيره اثر منل او د دې نه غيبي خبرې معلومول حرام دي، لهٰذا عِلمِ نجوم باطل دے، عِلمِ توقيت حق دے. (مرأۃ المناجیح، 503/2)

[2] ... د اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رحمةُ اللهِ عليه نه پوښتنه وکړے شوه چې په ګواکبِ فلکی ( يعنې د اسماني ستورو) په اَثراتِ سعد و نَحْس (يعنې ښه او سپيرۀ اثراتو) باندې عقيدت (يعنې يقين) ساتل څنګ دي؟ اعلیٰ حضرت رحمةُ اللهِ عليه جواب ورکړو: په مسلمان مطيع (يعنې په تابعدار مسلمان) باندې هيڅ څيز نَحْس (يعنې سپيرۀ) نه دے او د کافرانو د پاره څۀ سعد (يعنې ښه) نه دے او د عاصي مسلمان (يعنې نافرمانۍ کوونکي مسلمان) د پاره د هغۀ اِسلام سعد (يعنې نيک بختي) ده. طاعت (يعنې عبادت) بشرطِ قبول سعد (يعنې نيک بختي) ده. معصيت (يعنې

**سوال:** آيا د ستورو پهٔ قِسمت باندې څهٔ اثر وي؟

**جواب:** نهٔ جي! داسې سوچ هم نه دي کول پکار. (مسلم، ص944، حديث:5819) دا چې کوم لاس کتونکي (فالي) وغيره وي د دوئي پهٔ چل وَل کښې چرې هم مهٔ راځئ! پيسې به درنه هم لاړې شي او تاسو به پهٔ توهم پرستۍ کښې هم اخته شئ. بس دا ذِهن جوړ کړئ چې څهٔ رَبّ غواړي هم هغه به کيږي. (ملفوظاتِ امير اہلِ سنت، 254/4)

**سوال:** د سترګې رپيدو نه ښه يا بد فال اخستل څنګ دي؟

**جواب:** ښه فال اخستل جائز دے خو د څهٔ ښه څيز نه بد فال اخستل جائز نه دے. مثلاً که د ګڅې سترګې د رپيدو نه دا فال واخستے شي چې څهٔ مصيبت وغيره راتلونکے دے دا جائز نه دے. (بدشگونی، ص120. ملفوظاتِ امير اہلِ سنت، 71/2)

**سوال:** که پهٔ کور کښې د شيشې څهٔ څيز مات شي نو خلق وائي چې څهٔ ښه خبر راتلونکے دے يا بعضې وائي چې څهٔ غټ آفت وو کوم چې لرې شو، آيا د دې خبرو څهٔ حقيقت شته؟

**جواب:** د شيشې پهٔ شان د څهٔ څيز د ماتيدو پهٔ باره کښې د داسې خبرو پهٔ بابله زما سره معلومات نشته. نهٔ مې داسې خبرې چرته لوستلې دي او نهٔ مې د علمائے کرامو کثرهم الله السلام نه اوريدلې دي. بس پهٔ عوامو کښې ډيرې بنياد نهٔ لرونکې خبرې رواني

---

ګنهګاري) پهٔ خپل ځائے نَحْس (يعنې سپيرهٔ) ده که رحمت او شفاعت د دې د سپيرهٔ والي نه بچ کړے شي بلکې که سپيرهٔ والے سعادت کړي، ﴿فَاُولٰٓىِٕكَ یُبَدِّلُ اللّٰهُ سَیِّاٰتِهِمْ حَسَنٰتٍ﴾ (پ19، الفرقان:70) ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو د داسې خلقو بدئ به **الله** پهٔ نيکو بدلې کړي.) بلکې کله ګناه داسې سعادت شي چې بنده پهٔ هغې باندې پښيمانه، ستومانه، توبه ګار شي، هغه وينځلے شوه او ډير حَسَنات (يعنې نيکۍ) ميلاؤ شوې، باقي پهٔ ستورو کښې هيڅ سعادت او سپيرهٔ والے نشته که هغه پخپله مُؤَثِر (يعنې اثر کوونکي) وګڼې نو شِرک دے او که د دې نه مدد وغواړې نو حرام دے، ګڼې نو د دې رعايت ضرور د تَوَکُّل خلاف دے.
(فتاویٰ رضويه، 223/21)

وي، کيدے شي چې په هغې کښې يوه خبره دا هم وي. البته د شيشې په څۀ څيز باندې په داسې سوچ کولو کښې هيڅ باک نشته چې ”شايد څۀ غټ آفت راتلونکے وو کوم چې په وړوکي مصيبت باندې ختم شو.“ داسې سوچ کول د **الله** پاک نه اُميد او نيک فال اخستل دي، په دې کښې هيڅ باک نشته. ځکه چې د هر مصيبت نه غټ مصيبت هم وي.
(ملفوظاتِ امير اہلِ سنت، 125/6)

**سوال:** آيا د يو کور د يو څو کسانو ودونه په يو ځائے کولے شي؟ بعضې خلق دا د نقصان سبب ګڼي، تاسو په دې باره کښې راهنمائي وکړئ چې آيا داسې ګڼل صحيح دي؟

**جواب:** په يو وخت کښې د خوئيندو وروڼو په يو ځائے ودونو کولو کښې هيڅ سپيرۀ والے يا نقصان نشته، که هغه درې وي او که 313! په اِسلام کښې د بد فالۍ هيڅ حيثيت نشته. دا صرف د خلقو خيالونه دي چې درې ودونه په يو ځائے کولو کښې نقصان دے، حالانکې په اوسنۍ زمانه کښې چې په کوم انداز سره د سندرو او سازونو سره او د کور د زنانؤ د ګډولو سره ودونه کيږي داسې خو په يو واده کښې هم نقصان دے، بيا به په دريو ودونو کښې څومره نقصان وي؟ ياد ساتئ چې نقصان د ودونو له وجهې نه وي بلکې په هغې کښې د کيدونکو ګناهونو له وجهې وي. ظاهره ده چې د ګناهونو نه ډک ودونه کيږي نو د **الله** پاک رحمت به نۀ نازليږي، بلکې د رحمت دروازے به بنديږي کوم چې د نقصان سبب دے. (ملفوظاتِ امير اہلِ سنت، 460/7)

**سوال:** آيا دا خبره صحيح ده چې په دکان يا د کاروبار په ځائے کښې د نوکانو کټ کولو سره سپيرۀ والے راځي؟ آيا د شپې نوکان کټ کولے شي؟

**جواب:** نوکان کټ کول سپيرۀ والے نه دے بلکې که د سُنَّت ادا کولو او د شريعت په حکم باندې د عمل کولو په نيت سره کټ کړے شي نو ثواب به هم ميلاويږي. کۀ د

نوکانو کټ کولو په وجه دکان سپیرۀ کیږي نو بیا دې پۀ کور کښې هم نۀ کټ کولے کیږي چې هُغه ځائے هم سپیرۀ کیږي. بهر حال نوکان کټ کول د سپیرۀ والي سبب نه دے بلکې پۀ 40 ورځو کښې دننه نوکان کټ کول سُنَّت دي. که د 40 ورځو نه زیاتې وشوې او بیا یې هم نوکان نه وي کټ کړي نو بنده به ګنهګاریږي. هم دغه شان د شپې نوکان کټ کول جائز دي. پۀ عوامو کښې دا غلطه خبره مشهوره ده چې د شپې نوکان کټ کول منع دي. (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 342/2)

سوال: که چرې د یو کَس دا ذهن جوړ وي چې ”که پۀ هغۀ پسې شاته څوک اواز وکړي نو د هغۀ فلانکے کار به خراب شي“ داسې ذهن ساتل څنګ دي؟

جواب: داسې سوچ لرل بد فالي ده، د دې نه توبه کول ضروري دي.

(ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 235/2)

سوال: زما ګڅه سترګه رپیږي، دې د پاره څۀ دُعا وغیره وښایئ پۀ کومه چې زما دا مرض ختم شي؟

جواب: بعضې خلق د ګڅې سترګې د رپیدو نه بد فالي اخلي، داسې هیڅ هم نشته، چې دې طرف ته توجه نه ورکوې نو پۀ سکون کښې به یې. ”آیةُالکرسي“ د هر نـمونځ نه پس یو ځل لولئ او چې کله دې کلمې ته راورسئ ﴿وَلَا یَـُٔوۡدُہٗ حِفۡظُہُمَا﴾[1] (پ3البقرة:255) نو د دواړو لاسونو ګوتې پۀ سترګو باندې کیږدئ او دا کلمه یولس کرته ولولئ بیا یې د دواړو لاسونو پۀ ګوتو باندې دم کړئ او پۀ سترګو باندې یې راښکئ. که آیةُالکرسي درته یاده نه وي نو 11 کرته ”یَا نُورُ“ ولولئ او د لاسونو پۀ ګوتو باندې یې دم کړئ او پۀ سترګو باندې یې راښکئ. داسې د سترګو د پاره دا وظیفه هم فائده منده ده:

1 ... ترجمۀ کنزُ العِرفان: ” او د هغوئي حفاظت هغۀ ستړے کولے نه شي “.

﴿فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ ۝﴾ (پ26، ق:22) ترجمهٔ کنزُ العِرفان: "نو مونږه ستا نه ستا پرده اوچته کړه نو نن ستا نظر تيز دے" دا ولولئ او په دواړو لاسونو باندې يـې دم کړئ او په سترګو باندې يـې راښکئ، که الله پاک وغوښتل نو د سترګې رپيدل به مو بند شي. (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 100/8)

**سوال:** پيشوګان چې کله ژاړي نو د دې سره څهٔ کيږي؟

**جواب:** د پيشوګانو د ژړا نه بد فالي نه دي اخستل پکار. د پيشوګانو په ژړا باندې دا ګڼل چې بس څهٔ آفت راتلونکے دے، لهٰذا فلانکے سفر يا فلانکے سودا کينسل کړه ګنې نو نقصان به وکړې نو په حقيقت کښې داسې هيڅ هم نشته. پيشو هم ژاړي، انسان هم ژاړي او ماشومان هم ژاړي. د دې نه د بد فالۍ اخستو په ځائے عبرت حاصلول پکار دي لکه څنګه چې په يو کتاب کښې ليکلے شوي دي چې کله ماشومان ژاړي نو د دوزخيانو ژړا رايادوه کړئ. (موسوعة ابن ابی الدنیا، 218/3، رقم:253) ماشوم داسې ښکاري چې د بے وسۍ سره ژاړي، نو په دوزخ کښې به هم د بے وسۍ سره ژړل وي. بس الله پاک دې داسې کرم وکړي چې مونږ دوزخ ته لاړ نشو او نهٔ په ژړا شو. الله دې وکړي چې مونږ دوزخ ته د بوتلونکو کارونو په ځائے هم نيکۍ کوو.
(ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 137/2)

**سوال:** د ښه فال اخستلو يو څو مثالونه بيان کړئ.

**جواب:** ښه فال اخستل جائز دي. (تفسیر نعیمی، پ9، الاعراف، تحت الآیۃ:132، 119/9) او اخستل هم پکار دي، په حديثونو مبارکو کښې هم د دې ذِکر شته دے. [1] لکه څنګه چې

---

[1] ... حضرتِ بُريده رضی اللہ عنہ د قبيله بَنُوسَهم د 70 سوړلي کوونکو سره په بارګاهِ رسالت صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم کښې حاضر شو نو رسول الله صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم ووفرمائيل: تهٔ څوک يې؟ هغوئي ووئيل: بُريده،

سحر وختي د چا ښه انسان فون راغلو نو د دې نه دا فال اخستے شي چې "نن ورځ به مې ښه تیریږي." د کور نه بهر راووتلې او د چا نیک انسان سره دې ملاقات وشو، د دې نه هم ښه فال اخستے شي. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 87/5)

**سوال:** آیا په حامله زنانه یا د هغې په اولاد باندې د نمر تندر نیولو یا سپوږمۍ تندر نیولو څهٔ اثر پریوځي؟

**جواب:** دا خبره ډیره مشهوره ده چې که چرې زنانه د سپیوږمۍ تندر نیولو په وخت څهٔ قینچي کوي نو د بچي شونډې به یې کټ کیږي یا به فلانکۍ معامله کیږي وغیره. یاد ساتئ داسې قِسمه چې څهٔ هم معاملې دي شریعت د هغې ډاډګیرنه [یعنې حوصله افزائي] نه کوي البته کله داسې هم کیږي چې د چا کره اتفاقي طور د کټ شوو شونډو ماشوم پیدا شي نو وائي چې د دهٔ مور د سپوږمۍ تندر نیولو په وخت څهٔ قینچي کړي وو حالانکې د دې څهٔ شرعي حقیقت نشته.

د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه شوي سوالونه او د هغې جوابونه دلته ختمیږي.

## د فال اخستلو قِسمونه

فال اخستل یعنې څهٔ څیز، کَس، عمل، اواز یا وخت په خپل حق کښې ښه یا بد ګڼل. د

---

نو بیا رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت ابو بکر صدیق رَضِىَ اللهُ عَنْهُ طرف ته مخ کړو او اوئې فرمائیل: بَرَدَ اَمْرُنَا وَ صَلَحَ، زمونږه معامله سَړه او ښه شوه، بیا یې ووفرمائیل: تهٔ د کومو خلقو نه یې؟ هغوئي ووئیل: د اَسْلَمْ نه، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت ابو بکر صدیق رَضِىَ اللهُ عَنْهُ ته ووفرمائیل: سَلِمْنَا، مونږ به په سلامتۍ سره یو، بیا یې ووفرمائیل: تهٔ د کومې قبیلې نه یې؟ هغوئي ووئیل: د بَنُوسَهم نه، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ووفرمائیل: خَرَجَ سَهْمُكَ (اے ابوبکر) ستا حصه راووتله.
(الاستیعاب فی معرفۃ الاصحاب، 263/1)

دې بنيادي طور دوه قِسمونه دي: ﴿1﴾ بد فال اخستل ﴿2﴾ ښه فال اخستل. علامه محمد بن احمد اَنصاري قُرطبي رحمۃ اللہ علیه پهٔ تفسيرِ قُرطبي کښې نقل کوي: ښه فال اخستل دا دي چې د کوم کار اراده دې کړې وي د هغې پهٔ باره کښې د څهٔ خبره اوريدو سره دليل اونيسې، دا هُغه وخت دي چې کله هغه خبره ښه وي، خو که هغه خبره بده وي نو بد فال ترينه اخستل نهٔ دي پکار. شريعت د دې خبرې حکم کړے دے چې انسان دې ښه فال نيسي او خوشحاليږي دې او خپل کار دې پهٔ خوشحالیِ خوشحالیِ سر ته رسوي او چې بده خبره واوري نو هغې طرف ته دې توجه نه کوي او نهٔ دې د هغې پهٔ وجه د کار نه منع کيږي. (الجامع لاحکام القرآن للقرطبی، پ26، الاحقاف، تحت الآیة:4، جز:8، 132/16)

**بد فالي حرامه او نيک فال اخستل مستحب عمل دے حضرت سيدنا امام محمد آفندي رُومي بِرکلي** رحمۃ اللہ علیه پهٔ اَلطرِيقةُ الـمحمدِيَة کښې ليکي: بد فالي اخستل حرام او نيک فال يا ښه فال اخستل مستحب عمل دے. (الطریقة المحمدیة، 17/2، 24) او د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃ اللہ علیه ليکي: پهٔ اِسلام کښې نيک فال اخستل جائز دے، بد فالي اخستل حرام دي. (تفسیر نعیمی، 119/9)

**ډير اهم وضاحت:** بعضې وخت انسان نهٔ غواړي خو بيا يې هُم پهٔ زړهٔ کښې د بد فالیِ خيال راځي ځکه به د چا پهٔ زړهٔ کښې د بد فالیِ خيال راتلو سره هغهٔ ته **ګنهګار** نه وائي ځکه چې صرف پهٔ زړهٔ کښې د بد خيال راتلو پهٔ وجه باندې د سزا حقدار ګرځولو مطلب پهٔ يو انسان باندې د هغهٔ د طاقت نه زيات بوج اچول دي او دا خبره د شرعي تقاضې خلاف ده. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سُنّت، 40/3)

# هفته واره رساله مطالعه

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د شــيخ طريقت امير اهلِ سُنَّت حضرتِ علامه مولانا محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه او خلــيفة امير اهلِ سُنَّت الحاج ابو اُسَيد عُبَيد رضــا مدظله العالي له طرفه هره هفته د يوې رســالې لوستلو يا اوريدلو ترغيب وركولے كيږي. لاكهونه اسلامي وروڼه او اسـلامي خويندې دا رسـاله لولې يا اورې او د امير اهلِ سُنَّت او خليفة امير اهلِ سُنَّت د دعاګانو حقدار جوړيـــــــــــږي .

دا رساله په آډيو كتـــــــــــې د دعوت اسلامي د ويب سائټ www.Dawateislami.net يا د Read and listen Islamic book ايپلي كيشـــن نه فري ډاؤن لوډ كيدے شي. د ثواب په نيَّت يې پخپله هُم لوَلئ او د خپلو مرحوميتو د ايصالِ ثواب دپاره يې تقسيموئ هُم.

(شعبه هفته واره رساله مطالعه)

فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net